د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

جمعه ۲٦ رمضان ۱۴۴۰هـ ۲۰۱۹-۰۵-۳۱م گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۱۱

مطبوعاتي اعلاميه

# ډیموکراسۍ مسلماني ښځې د فاسدو سیاستوالو د عیاشۍ او مستۍ وسیلې ګرځولې دي

د جمهوري ریاست د ارګ له لوري د فساد او فحشا د سیستماتیک ترویج او د پارلمان او وزارتونو د څوکیو په بدل کې له ښځو د جنسي غوښتنې په اړه وروستیو افشا کونو د خلکو ترمنځ سخت تشویشونه راپورته کړي دي. دا کومه نوې پېښه نه ده، بلکې څه موده مخکې د افغان امنیتي ځواکونو له کونډو ښځو د ناوړه جنسي استفادې او د ښځو د فوټبال د ټیم پر غړو باندې د جنسي تیري مسئلې هم په پراخ ډول فضا شوې وې.

سره له دې چې د افغانستان د مسلمان ولس په تاریخ کې دا ډول بې عزتۍ اصلاً ساری نه لري، خو په دې اړه دغو افشا کونو وښوده چې خلک د خپلو خویندو د پاک لمنۍ او نوامیسو په وړاندې دومره بې احساسه او بې توپیره شوي چې دغه ټکان ورکوونکی او دردوونکی خبر یوازې د څو رسنیو د خبرونو سرټکي او د سیاسي رهبرانو په سطح د یوې او دوو غندنو او د ارګ له خوا د څو سنبولیکو حرکتونو پرته د خلکو ترمنځ نور هېڅ عکس العمل را ونه پاراوه. فرضاً که دا ډول پېښه لس یا شل کاله مخکې پېښه شوې او رسنیزه شوې وای، د خلکو عکس العمل به له نن څخه بشپړ متفاوت او جدي و. دغه پېښه د دې څرګندونه کوي چې د دا ډول مسایلو په اړه د خلکو حساسیت خورا کم شوی او ۱۸ کلن استعمار او د ډیموکراسۍ تطبیق د افغانستان د غیرتمن ولس اخلاقي او ذهني وضعیت څومره بدل کړی دی.

د خلکو ټوله هڅه یوازې په دې متمرکزه ده، چې څنګه کولای شي یوازې د خپلې کورنۍ د غړو امنیت خوندي کړي، ترڅو هغوی د دا ډول فتنو له شر څخه وساتي. په داسې حال کې چې د فحشا دغه طوفان دومره خطرناک دی، چې د هغه پر وړاندې فردي مبارزه ناممکنه ده؛ مګر دا چې د ډیموکراسۍ نظام او د هغه د ارزښتونو جرړې د ډله ییزې مبارزې په ترڅ کې له بېخه را وایستل شي. ځکه ډیموکراسي ښځه د سیاستوالو د عیاشۍ او مستۍ وسیله، د پانګوالو او لویو تجارتي کمپنیو جنسي وینځه ګڼي او د دغه ایډیولوژۍ پر وړاندې مبارزه ستر فکري او سیاسي ځواک او بدیل نظام –اسلامي خلافت- ته اړتیا لري.

بنسټیزه ستونزه دا ده چې په دا ډول پېښو کې د عامه افکارو پام تر ډېره خلکو او بنسټونو ته ور اړول کیږي او **هېڅوک په دا ډول پېښو کې د ډیموکراسۍ مفکورې او ارزښتونه تر پوښتنې لاندې نه راولي؛** په داسې حال کې چې په افغانستان کې اخلاقي فساد تر اوبو لاندې د یخ د هغه ستر غره په څېر دی چې یوازې ډېره لږ برخه یې له اوبو بهر معلومېږي. که د افغانستان مسلمان ولس د ډیموکراسۍ خطر جدي و نه ګڼي او پر وړاندې یې مبارزه ونه کړي، ژر ده چې ډیموکراسي به کورنی نظم داسې بدل کړي چې فساد او فحشا به تر دې کچې عادي شي چې پلرونه او میندې به په هغو نندارچیانو بدل کړي چې د خپلو اولادونو بې حیایي به ګوري، خو پر وړاندې به یې هېڅ هم نشي کولی.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

د حزب التحرير ولايه افغانستان رسمي ویبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ایمیل پته
info@hizb-afghanistan.org

د حزب التحریر رسمي ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info